**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د چین په ساتنیز کمپونو کې د ایغور د مسلمانو ښځو شنډېدل

## د ختیځ ترکستان د مسلمانانو پر وړاندې د رژیم وژونکې او وحشیانه کمپاین

په وروستیو اونیو کې ځینو رسنیو لکه، د انګلستان «خپلواکه ورځپاڼه» رپورټ خپور کړ، چې په شرقي ترکستان کې به پخوا یوازې مسلمانې ایغوري ښځې بندي کېدلې، خو اوس په زور سره شنډېږي. ښځې وایي، چې په زور نامعلومه درمل ورکول کېږي، چې له امله یې د حیض دوره دریږي. دوی زیاتوي، چې افسران یې وهي او بربنډوي یې. په همدې ډول بېلابېلې شکنجې ورکول کېږي. په کوچنیو خونو کې چې پراخوالی یې ۲۰ پر ۱۰ پوټه دی، شاوخوا ۵۰ ښځې بندیانېږي. په ترکستان کې د چینایي چارواکو په اړه وړاندې هم راپورونه خپاره شوي وو، چې ښځې به یې د حمل (امېدوارۍ) په دربیم پړاو کې هم د جنین له منځه وړلو ته اړ کولې. د نفوس څېړنیز انسټیټیوټ، چې د ډېرېدونکي نفوس د بندیز پر وړاندې کار کوي، په چین کې یې د جبري شنډولو پروګرام وغنده او زیاته یې کړه: «د ایغور اوسنی نفوس د چین تر ۱ سلنې کم دی. په هر هېواد کې د دغې کچې نفوس د زیاتوالي مخنیوی، د هغوی د وژنې او نسل ختمولو مانا لري. له دې امله د ایغور د مسلمانو ښځو شنډول او په زور د جنین له منځه وړل د ایغوري نفوس د کنټرول پالیسي نه ده؛ بلکې دا د هغوی ختمول دي، چې اقتصادي، سیاسي او ټولنیز بندیزونه باید پرې ولګول شي.» پر دې سربېره د چین رژیم له هان نامسلمانو چینایانو سره مالي مرسته کوي، چې له مسلمانو ښځو سره واده وکړي. په دې توګه به په ختیځ ترکستان کې د ایغور مسلمانانو نسل له منځه یوسي. بله پایله به یې دا وي، چې د هان او ایغور ګډ نسل به رامنځته شي. دا کړنه په اصل کې د دوی د جن مینځل دي، چې د بدلون یوه پالیسي یې بلل کېږي. د دې پالیسۍ موخه په اصل کې د ایغور د مسلمانانو له منځه وړل دي.

د چین بې رحمه رژیم وېرونکي ټولنیز جنایتونه کوي، چې په شرقي ترکستان کې د ایغور مسلمانان او د هغوی اسلامي هویت له منځه یوسي. په ورته وخت کې د اسلامي نړۍ بې رحمه رژیمونه له بیجنګ سره خپلې مالي مرستې کوي. دوی د مسلمانانو ضد رژیم په غېږ کې نیسي، چې د یوه کمپاین په ترڅ کې یې شاوخوا یو میلیون مسلمانان په کمپونو کې بندي کړل. په دې توګه غواړي چې په شرقي ترکستان کې د اسلام ریښې وباسي. په

تېرې جولای میاشت کې د سعودي، متحده عربي اماراتو، کوېټ، عمان، مصر، پاکستان او سوډان په ګډون د مسلمانانو ډېرو رژیمونو یو ازاد لیک لاسلیک او ملاتړ یې ترې وکړ، چې په پایله کې یې «د بشري حقونو په برخه کې د چین ځانګړې لاسته راوړنې» وستایلې. دا په اصل کې د چین له کمونېسټ رژیم څخه ملاتړ دی، چې زیات شمېر ماشومان، ښځې او نارینه مسلمانان یې بندیان کړي دي. د پاکستان مشرتابه هم په ډېرې بې شرمۍ سره د ملګرو ملتونو د بشري حقونو په شورا کې چین ځکه وستایه، چې مسلمانو وګړو ته یې پاملرنه کړې ده. دوی زیاته کړه، چې د اېغور ستونزه د چین «کورنۍ مسله» ده. داسې رپورټونه هم شته چې ترکیه غواړي د ښځو په ګډون په دغه هېواد کې پراته ایغوري مسلمانان د چین دولت ته وسپاري، څو دغه ظالم رژیم یې د ګلګ کمپونو په بندیخانو کې واچوي.

اردوغان ځکه د ایغور له مسلمانانو سره خیانت کوي، چې د ترکیې څو بیلیونه ډالري معاملې خوندي شي او هم د بلومبرګ د رپوټ پر اساس، د چین مرکزي بانک په تېره جون میاشت کې ترکیې ته د بهرنیو زېرمو د ډېرښت په موخه یو بیلیون ډالر ورکړي. د مسلمانانو دغو بې شرمه رژیمونو ته د چین لخوا «د فرهنګ د له منځه وړلو او ټولنیز بدلون کمپاین» هېڅ معنی نه لري، ځکه دوی خپل ځانونه په ډالرو پلورلي دي. په داسې حال کې چې یاد کمپاین په شرقي ترکستان کې د مسلمانانو د راتلونکي نسل د له منځه وړلو لپاره دی. په رښتینې توګه باید د هغه کمپاین مخه ونیول شي، چې د اېغور د خویندو او وروڼو اسلامي هویت ختموي. موږ باید د الله سبحانه و تعالی دغې بلنې ته هرکلی ووایو، چې فرمایي:

﴿وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ﴾

[انفال:۷۲]

***ژباړه:*** *او که هغوی د دین په اړه له تاسو څخه مرسته وغواړي، نو له دوی سره مرسته کول درباندې فرض دي.*

د دې لپاره چې د شرقي ترکستان د مسلمانانو پر وړاندې خپله دنده پرځای کړو، نو ژر تر ژره باید د نبوت پر تګلاره اسلامي خلافت تاسیس کړو؛ ځکه د دغه اسلامي دولت سیاست د هر هغه دولت پر ضد دی، چې مسلمانان وژني. دا دولت به هېڅکله په پیسو سره ونه پېرل شي او د اسلام د دښمنانو د وېرولو او د مظلومو مسلمانانو د ازادولو لپاره به په خپله واکمنۍ کې له هر ډول امکان څه کار واخلي.

**ډاکټر نسرين نواز**

**د حزب التحرير د مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې مشره**

**د صدور ګڼه: ۰۰۱/۱۴۴۱**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د محرم ۸مه**

**۲۰۱۹م، کال د سپټمبر ۷مه**